بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سر یال نمبر: 449

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# خیبر ؛ د امنیتي ځواکونو سره د ډزو په تبادله کې یو ترهگر دوزخ استول شوی

د خیبرپښتونخوا د باړې په منډي کس کښې د امنیتي ځواکونو او ترهګرو ترمینځ د ډزو په تبادله کښې یو ترهګر وژل شوی او دوه ژوبل شوي۔ وسلې او مهماتو برآمد شوی دي۔

**د منډي کس په سیمه کې امنیتي ځواکونو د ترهګرو نقل وحرکت په وخت وپیژندل او محاصره يې کړل، چې پر مهال يې ترهګرو د تيښتې هڅه وکړه۔ امنیتي منسوبینو تېښته کوونکي ترهګر تعقیب کړل۔ د ډزو په تبادله کې یو ترهګر وژل شوی او دوه په تېښته بریالي شوي دي۔**



**یو امنیتي ځوان چې په زړورتیا يې جګړه وکړه د شهادت لوړ مقام ترلاسه کړی۔ د تښتیدلو ترهګرو د موندلو لپاره د لټون عملیات روان دي۔**

په خیبر کې مېشت امنیتي ځواک د ترهګرو پر تګ راتګ کلک نظر لري او په مسلکیتوب او غوره تګلارې سره خوارج خپل انجام ته رسوي، چې له امله يې خلک سکیورټي فورسز ته خراج تحسین پیش کوي۔

مورخه: ۳۰ جنوری ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk